مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۶ / ۰۹ / ۲۶

# آیا ناکامورا او اېډیسن د کرامت خاوندان وو؟

زموږ په مذهبي ټولنو کې د تصوف، خانقاه، عرفان او پیرۍ مریدۍ غبرګونونه ډېر کله د خیالي او خارق العاده روایتونو پر ګودر لنګر اچوي. آن تر دې چې له یوې غونډۍ بلې ته د خره الوتل، د مړ تپوس ژوندي کول، د جمعې په مبارکه ورځ پر دېوال سپاره مکي ته رسېدل او ماښام بېرته راستنېدل او د اوبو د پاسه مزل کول د ربښتیني کرامت او غیبي پېرزونو اَوج ګڼل کېږي. د دغه سینه په سینه ولسي افسانو او د اوسني عصر د نوښتګرو پوهانو د ساینسي لاسته راوړنو ترمنځ، بېخي جالب او ژور تضاد شتون لري.
د کره دیني متونو له مخې، د بشري کرامت راز په تشو دعوو یا په خلوت کې پر تظاهر نه، بلکې په زُهد، ډار او هغو ربښتینو هڅو او خدمت کې نغښتی دی چې نېکان یې د خالق تعالی د بندګانو د هوساینې او خېر ښېګڼې لپاره کوي. قرآن کریم په بشپړ صراحت سره بې له کوم طبقاتي وېش داسې فرمايي: « وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ - موږ د آدم اولاد ته کرامت او شرافت ورکړی دی» دا آسماني غږ ثابتوي چې د کایناتو رب هر انسان ته که د هر دین، عقیدې، مذهب، ملت، ژبې، طبقې، نسل او ذات څخه وي، عزت او درنښت وربښلی دی. کله چې یو کس د بزرګۍ خبره کوي نو دا پوښتنه راولاړېږي چې آیا د ربښتیني برخي خاوند هغه څوک دی چې نوښت او ریاضت کوي؛ که هغه چې په قبر کې نَکیر او مُنکر ته وايي: « زه خو د فلاني صاحب دوبي یم»؟
په ۱۲۵۸م کال کې د هلاکو لښکر پر بغداد یرغل وکړ او آخرني عباسي خلیفه، المستعصم بالله یې په بوجۍ کې د آسونو تر سُمونو لاندې په سختۍ بې رحمۍ ووژلو. نوموړی خلیفه د حضرت پیغمبر (ص) د خپل کاکا، عباس (رض) له نسل څخه وو او د تقدس چپن یې پر اوږو پرته وه. بغداد خو د اولیاوو او صوفیانو ټاټوبی وو؛ نو ولې په هغه ناورین کې چا خپل کرامت ونه ښود؟ د دجلې او فرات سیندونه د زرګونو علماوو، متصوفینو او مرشدینو پر وینو رنګ شول او لکونه نایاب مخطوطات اوبو لاهو کړل؛ دا پیران مبارکان چېرته غیب وو چې بغداد له چنګېزي ښامارانو څخه وژغوري؟
تېرکال د اګست پر پنځلسمې، د کوزې پښتونخوا په بونېر کې ویجاړونکی سېلاب راغی؛ د پیر بابا زیارت چې پر لوړه ساحه کې وو، سلامت پاتې شو خو جامع جومات او شاوخوا دوکانونه او کورونه د څپو خوراک شول. هغه مهال هم ډېر غروښه پورته شول چې دا خو د کراماتو خاوره ده؛ مګر هماغه څه وشول چې په نورو عادي سیمو کې کېږي. تاریخ شاهد دی چې اسطورې نه د چا ګېډه ډکوي او نه رنځور رغولی شي. نن سبا د نړۍ په هر کونج کې د یوه خوار او غریب په جب کې هم کمره او ځیرک ټلیفون شته، د نوي کول د قناعت لپاره باید د مستندو ویډیوګانو په خپرولو سره دغه ډول بزرګي ثابته شي. دا نسل په آسانۍ سره د وظیفو، خوبونو، دمونو، تعویذونو او هوايي کرامتونو منلو ته تیار نه ښکاري.
برعکس، ځینې انسانان د عمل ډګر ته را ووتل او علمي هڅو یې د میلیاردونو انسانانو له کورونو ډیوې او لاټینونه راټول کړل او داسې څراغونه یې ولګول چې توږې تړږمی یې د غرمې په څېر وځلولې. ټامس اېډيسن ( Thomas Edison) د روښنايي داسې سرمدي څراغ اختراع کړ چې له برکته یې له لوېدیځه تر ختیځه آن د سپېڅلیو حرمینو شریفینو په ګډون ټوله نړۍ روښانه شوه. دا مهال که د حج په تود موسم کې د میلیونونو حاجیانو خولې د عصري سیستمونو (AC) پر مټ وچېږي، دا ټول د ساینس پوهانو د مادي او عملي پېرزونو برکت دی.
که کرامت د بشر له ژوند، بقاء او ارتقاء سره مرسته کول وي، نو جاپاني ډاکټر ټېتسو ناکامورا (Tetsu Nakamura) د ننګرهار په سوځېدلي ګمبیري کې د ویالو پر بهولو، لسګونو زرو مشرقي والو ته د نوي ژوند هیلې ور وبښلې. آیا د کاکا ناکامورا دا بې بریده قرباني د کائناتي کرامت او خدمت خلق یوه جوته بېلګه نه ده؟ آیا هغه کسان چې خپل ژوند، امکانات او هڅې د فقر د محوه کولو او وچو دښتو خړوبولو ته وقف کوي، د برخي خاوندان نه دي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په غور و لولئ

له عقلي ليدلوري په هوا کې الوتل، په کونټۍ له پېشو پړانګ جوړول، په لحد کې د مړي د حالت معلومول او د غرقې بېړۍ د ناوې را ژوندي کول د طبيعت له فزيکي قوانينو سره ډغره وهل دي. البته، له ديني زاويې په معتبرو نصوصو کې د اولياوو کرامت ثابت دی؛ لکه د حضرت مريم لپاره په محراب کې بې موسمه خواړه، درې پېړۍ وروسته د اصحاب الکهف راويښېدل او د عمر (رض) د خط له برکته په مصر کې د طغياني نيل د ځپو آرامېدل يې غوښ دليل دی.
په زړه پورې خبره خو دا ده چې ځينې مشهور پيران صاحبان خپلو مريدانو ته وايي: «پر ځان آيت الکرسي چف کوئ، اووه اوسپنيزې کلاګانې به درڅخه راتاوېږي» خو پخپله له نيم درجن باډي ګارډانو پرته د جمعې خطبه هم نه ورکوي.
د الله تعالی د مبارک کتاب په برکت کې شک لرل د ايمان زيان دی؛ خو کرامت يو غير اختياري فضيلت دی او د ولي، قطب يا مرشد په اختيار کې نه وي چې کله يې زړه شي هلته يې راښکاره کړي. بله دا چې اوږدې ږنې، په لاس کې امساء، شنه چپن، په ګوتو کې د ګوتمو کتار او په جوماتونو کې غومبر د طريقت تمثيل کېدای شي؛ خو دا د عبادت اصلي روح نه دی.
د خيالي او بې سنده دعوو غټ تاوان دا دی چې کله يوه ټولنه د خدای ورکړي عقل پر ځای په قيصو او تعويذونو تکيه زياته کړي؛ نو علم ورته هسې مباح څيز ښکاري. هلته بيا د سيندونو مهارول، د درملو جوړول ، د فقر ختمول او په سياسي ډګر کې له سيالانو سره سيالي شاته پاتې کېږي او د هغو کسانو هڅې بابيزې ګڼل کېږي چې د بشريت د سوکالۍ لپاره يې شپه او ورځ په ځان يوه کړې وي.
د انسان معنوي ارزښت په تقوا، ښو اخلاقو، نوښت او د محرومو خلکو په لاسنيوي کې نغښتی دی. دين اصول دي او کرامت د خالق تعالی له لوري ځانګړی انعام. خو ديناري د منجاور کچکول نه دی چې له دينارونو يې ډک کړې او د خانقاه په لمن کې ځان د برخې خاوند وبولې.
الله مې دې زاړه ايمان ته خير کړي!



د ليکوال نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ